## الدرس الأول
## اولنئ درس

### احكام الصلاة
### د مانځه احکام:

مونځ د اسلام دارکانو نه دويم رکن دي ، هر بالغ عاقل مسلمان ، باندی فرض دی ، د بلوغ اندازه یا پنځلس کاله عمر دی ، یا دنامه نه لاندی ويخته راختل دي ، اويا په خوب کښې احتلام کيدل يعنى دنطفئ وتل دي ، او د زنانه دپاره د حيض راتلل دي ، پدي علامو کښې چی یوه علامه موجوده شی ، دغه انسان بالغ حسابيږی ، او په احکامو باندی مکلف (پابند) دی ، د مونځ د فرضيت نه انکار کونکی په اجماع د امت سره کافر دی ، او د سستئ او ناراستئ دوجی نه مونځ پريښودنکی په اجماع د صحابه کرامو سره کافر دی ، د قيامت په ورځ به د ټولو نه اول حساب کتاب د مانځه په باره کښې کيږی ، الله پاک فرمائی:«ترجمه » يقينًا مؤمنانو باندی مونځ په مقرر وخت کښې فرض شوی دی [النساء١٠٣]، د عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روايت دی ، يقينًا نبی کريمﷺ فرمائيلی دی:«ترجمه» د اسلام پنځه بناګانی دی : (١) د لا اله الا الله ګواهی کول. (٢)د مونځ پابندی کول (٣) زکوة ورکول (٤) حج اداءکول(٥) د رمضان روژی نيول. متفق عليه ٨١٦ .جابر بن عبدالله رضي الله عنه فرمائي : چی ما د رسول اللهﷺ نه اوريدلی دی :ترجمه : بے شکه د بنده اود شرک او کفرترمينځ فرق د مانځه پريښودل دی [رواه مسلم : ٢٥٦]

د مانځه پابندی او دهغی فضائل:

ابو هريره رضی الله عنه فرمائی : چی رسول اللهﷺفرمائيلی دی : ترجمه : چاچی خپل کور کښې صحيح طريقی سره اودس وکړو ، بيا يو کور د کورونو د الله تعالي (جومات) ته روان شو ، د يو فرض مونځ د آداء کولو دپاره په يو قدم باندی به ئی ګناه معاف کيږی ، او په بل قدم باندي درجه اُوچته کيږی رواه مسلم ٦٦٦. د ابوهريره رضی الله عنه نه نقل دی ، چی رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : زه تاسوته داسی کار اُونه ښايم چی د هغی دوجی نه الله پاک ګناهونه ختموی ، او درجات اُوچتوی ؟ صحابه کرامو رضوان الله عليهم أجمعين عرض وکړو : اے د الله رسوله ! ضرور اوفرمايا : صحيح اودس کول سره د تکليفونو نه ، او ډير قدمونه جوماتونو ته اغستل ، او د يو مانځه نه پس د بل مانځه پوری انتظار کول ، دا مقام د (رباط) د الله په لار کښې څوکيداری ده ، (دجهاد دپاره هر وخت په اسلامی سرحداتو باندی تيار وسيدلو ته رباط وائی) ، دغه رنګه رسول الله ﷺ په بله موقع فرمائيلی دی : څوک چی سهر وخت کښې يا د ماښام وخت کښې جومات ته لاړشی ، الله پاک دهغه دپاره په جنت کښې ميلمستوب تياروی کله چی هم سهر او ماښام ځی متفق عليه